
پوهندوی آصف بهاند

# خلک یې نه غواړي،

## خلک یې غواړي

## (د نجونو د ښوونځیو ستونزه)




خلک خپلو اولادونو ته تعلیم غواړي، د طالبانو ځینې چارواکي وایي چې خلک خپلو لونړو ته تعلیم نه غواړي او ښوونځیو ته یې نه پرېږدي.

د طالبانو د د لوړو زدکړو وزیر په خپلو نوو څرګندونو کې فرمایلي دي چې د نجونو زدکړه فحاشي او عیاشۍ ته لار اوارول دي. د بي بي سي په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«طالبانو وزیر څرګندونو ته غبرګونونه؛"امان الله خان نړۍ سره سیالي غوښته"
ښاغلی ندیم په دغې ویډیو کې پر پاچا امان الله خان نیوکې کوي او وایي " امان الله خان څه وکړل، ولاړ پر غربیانو او کافرانو وګرځېد او له هغې خوا یې دا فورموله راوړه چې ښځې ولې په کورونو کې ناستې دي او مکتبونو ته نه ځي".

هغه د امان الله خان له خوا زدکړو ته د ښځو هڅونه "افغانستان ته عیاشي او فحاشۍ نسخې راوړل" بللې او وایي محمد ظاهر شاه هم همدا تګلاره مخ ته یوړه، چې په وینا یې عالمان یې پر وړاندې ودرېدل.

نوموړی په دغه وېډیو کې وایي، طالبان هم دغه ډول زدکړې نه مني، ځکه د هغه په وینا "زموږ له اسلام، افغانیت او غیرت سره په ټکر کې دي"...»

دغه راز په «اماج نیوز» نومې رسنۍ کې راغلي دي چې: «طالبانو د پوهنې وزير نورالله منير وايي چې خلک نه غواړي اوسنيو شرايطو کې يې لوڼې ښوونځيو ته ولاړې شي...»

په افغانستان کې د ښځو د کار کولو او د نجونو د ښوونځيو د پرانستل کېدو او زدکړو مسأله، په داسې يو ناسور ټپ باندې بدله شوې ده چې پر رغولو باندې يې د ټولې نړۍ د طبيبانو نسخې او تجربې له ناکامېدو سره مخ شوې دي. له هر ډول فکر او لارې نه په استفادې سره افغانان او نړيوال و نه توانېدل چې طالبان قانع کړي چې ښځې د کار کولو حق او نجونې د تعليم حق لري. له دې دواړو کارونو سره د نويو واکدارانو مخالفت تر دې بريد پورې رارسېدلی دی چې د نجونو تعليم لويه گناه او ان کفر او فحشا سره مساوي گڼي.

په همدې تېرو څو ورځو کې د نوي حکومت د لوړو زدکړو سرپرست وزير په نويو ارشاداتو کې داسې خبرې شوې دي چې له هېڅ ډول ملي او نړيوالو قوانينو سره برابرې نه دي. د ښځو د کار کولو او د نجونو د تعليم په برخه کې نه يوازې د طالبانو په چلن او فکر کې بدلون رانغی، بلکې په يادو دواړو برخو کې يې لهجه او عمل نور هم داسې توند شوي دي چې خلک يې د بشپړې ناهيلۍ پر پوله باندې درولي دي.

د بي بي سي په يوه وروستي رپوټ کې د افغانانو د يادې ناهيلۍ په باب داسې راغلي دي:

«... خلک وروسته له هغه لا ډېر ناهيلي شوي چې طالبانو له شپږم د پورته ټولگيونجونو ته ښوونځيو ته د بېرته ستنېدو اجازه ورنکړه.

تېر اگست کې د پوښتل شويو وگړو يوازې ۱۱ سلنې ويلي، ماشومان يې دغه هېواد کې د زده کړې او ودې فرصت لري. د خپل هېواد ښوونيز نظام د کيفيت په اړه د افغانانو ناهيلي د گالوپ د رپوټ بل مهم ټکی دی.

د رپوټ په وينا اوس په ريکارډ کچه افغانان افغانستان کې د معارف له کيفيته ناراضي دي او داسې انگېري چې ښوونيز نظام له کډوډۍ سره مخ دی. يوازې شل سلنه خلکو داسې باور ښودلي چې گواکې د هېواد له ښوونيز نظامه خوښ دي...»

افغانستان کې واک ته د طالبانو له راگرځېدو راهيسې اکثريت ولايتونو کې له شپږم ټولگي پورته د نجونو ښوونځي تړلي چې په کور دننه او بهر يې بيا، بيا د پرانيستلو غوښتنې کېږي. خو طالبانو دې ټولو غوښتنو ته منفي ځواب ورکړی دی.

نويو حاکمانو خو د علم زدکړه له «فرض» نه «مباح» ته راټيټ کړ، اوس نو د دې ډار هم رامنځته شوی دی چې د حراموالي فتوا ورته را ونباسي.

تر شپږم پورته ټولگيو د نجونو د تعليم مسأله اوس هم په افغانستان کې د يوې ناسپړل شوې غوټې بڼه لري، اوس چې د طالب چاواکو د نظرونو اختلاف مالگه مرچ هم پرې ودوړول شول، ښايي موضوع يا نوره هم پېچلې شي او که په طالب چارواکو کې د نجونو د تعليم پلوي ډله برلاسې شي، نو بيا به موضوع د علم پلوو په گټه راوڅرخي او د نجونو د ښوونځيو تړلې دروازې به بيا پرانستل شي.

د نجونو د ښوونځيو پر موضوع باندې د طالب چارواکو اختلاف د بي بي سي پاينده څرگند څېړلی ده، د هغه د ليکنې په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«... د طالبانو حکومت د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال شېر محمد عباس ستانکزی چې پخوا د دوی د مرکچي پلاوي مشر و، له هغو گوتو په شمار طالب مشرانو يو دی چې دا مسله يې په زغرده ننگولې ده.

هغه پرون په کابل کې د 'ګرځندوی صنعت' په اړه يوې غونډې ته وويل، تعليم پر نر او ښځه فرض دی او په دې برخه کې بايد د هېچا شخصي نظر مهم نه وي.
هغه د نجونو د زدکړې پر مخالفينو دا غبږ هم وکړ چې که کوم دليل لري راوړاندې دې شي.
ښاغلي ستانکزي د ډېرو جزياتو په وړاندې کولو سره هڅه وکړه د هر ډول استدلال مخه ډپ کړي.
خو تر هغه وروسته په همدې غونډه کې د طالبانو د امر بالمعروف وزير شيخ محمد خالد حنفي وويل، دنياوي تعليم مباح، او که څوک يې د اسلامي نظام لپاره کوي نو مستحب دی.
برتانيا کې د عالمانو او امامانو شورا غړي سيد مستقيم شاه د ښاغلي حنفي او ستانکزي د څرګندونو په تړاو بي بي سي ته وويل چې تعليم فرض دی او د ده په وينا څه چې ښاغلي حنفي حديث بللی، هغه حديث نه دی بلکې د امام شافعي قول دی.
د ښاغلي حنفي او ستانکزي خبرو پر خواله رسنيو هم غوغا جوړه کړې.
پرون ماښام د بي بي سي خبر او نظر خپرونه کې هم ډېرو ګډونوالو د ښاغلي ستانکزي د خبرو په پلوي برخه واخيسته.
د حالاتو يو شمېر څارونکي وايي د طالبانو ډېر نور جګپوړي چارواکي هم د نجونو ښوونځيو د پرانيستل کېدو پلويان دي خو په زغرده د دې خبرې کولو زړه نه لري.
د طالبانو په يوه کلني واکمنۍ کې د دفاع چارسمبالی وزير ملا محمد يعقوب، د تصفيې کميسيون مشر مولوي لطيف حکيمي، د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال شېرمحمد عباس ستانکزی او څو نور کسان، حکومت کې دننه د ځينو اړينو ګامونو د اوچتېدو پر اهميت او هغو بايدونو غږېدلي، چې د دوي په خبره د حکومت او ملت ترمنځ واټن کموي.
خو د نړيوالو سازمانونو او ګڼو افغانانو په باور بل اړخ ته د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د طالبانو حکومت هغه بنسټ دی چې د دوی په دواړو دورو کې يې ان پخپله د طالبانو ترمنځ نارضايتۍ پيدا کړي.»

د نويو واکدارانو د معارف سرپرست وزير په خپلو ورستيو څرګندونو کې ويلي وو چې خلک نه غواړي چې لورګانې يې ښوونځيو ته ولاړې شي؛ خو د ده د څرګندونو په غبرګون کې د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې خلکو ويل چې موږ د خپلو ټولو اولادونو او نوي نسل له پاره ښوونځي او تعليم غواړو، په تېره د نجونو له پاره. دلته به يې څو مستندې بېلګې وړاندې کړم چې خلک راټول شوي دي او په خپله خوله ناري وهي چې موږ ښوونځي غواوړو او موږ د نجونو د ښونځيو پرانستل او پيل کېدل غواړو:

تاند:

«پکتيا کې د نجونو لاريون د خبري پوښښ له کبله يو شمېر خبريالان توهين شوي.»

وفا سمندر:

«پکتيکاوپکتياوخوست، په نوي پاڅون سره، تر سپوږمۍ، تېزه رڼا، د افغانانسان پر خزان خزان ذهن او زړه راخوره کړه:




قلملار ټولنه:

«ولس د نجونو ښوونځي غواړي!
تعلیم په نر او ښځه فرض دی
په ټولو اسلامي هیوادونو کې نجوني ښوونځیوته ځي.
ولس یو کال زغم او حوصله وکړه نور حوصله نسي کولي دخپلو لونو، خویندولپاره ښوونځي غواړي.
نور بهاني کول د وخت ضایع کول دي پوره کال تیر سو خو دنجونو ښوونځیو خلاصون فیصله ونسوه.
که اراده موجوده وي دا یو ورځې کار دی.
که دنجونو ښوونځي ژر خلاص نسي بیا که ولس هر اقدام وکړو مسولیت به د وزارت او مسولینو وي.
ولس نور غواړي د خپل خویندو علاج یی ښځینه په خپل وطن کې وکړي.
ولس غواړي لوڼي یی د تعلیم اسلامي فرضي حق تر لاسه کړي.
ولس غواړي د پردیو د احتیاج نه ځان د تل لپاره خلاص کړي.
دنجونو ښوونځیو لپاره ږغ پورته کړئ نور چپ پاته کیدل د خپل ولس سره ظلم دی همدا یې وخت دی دپکتیا دولس ملاتړ وکړئ او ټول ولس وهڅوئ چې دنجونوښوونځیو خلاصون لپاره نور راووزي او ږغ پورته کړي.»

#PenPathGirlsEduCampaign
*#supportpaktia*
#LetAfghanGirlLearn

دا سړی میاخان کاکا نومېږي چې دولس کیلو متره لار یې وهله، خو لورګاني ښوونځي ته ورسوي او ما (آصف بهاند) د ده پهٔ دې کار او فداکارۍ باندې مقاله هم ولیکله؛ دغه ښاغلي خپلې لورګاني ښوونځي ته

د زدکړو له پاره رواني کړېدي، نه کومي میلي ته. اوس سرپرست صاحب څوک خبر کړي چي خلک د لورگانو زدکړيِ غواړي که نه؟






په افغانستان کي له ستونزو سره ـ سره، له زدکړو محروم زدکونکي، د هغوی کورنی او د نوي نسل دروزلو پلویان کرار نه کیني او له ډېر لږو امکاناتو نه په استفادې سره هڅي رواني دي چي نوی نسل خپلو زدکړو ته دوام ورکړي او پرمخ ولاړ شي. د دې هڅو په لړ کې له زدکړو محرومو زدکونکو ته د رادیو له لارې د زکړو زمینه برابره شوې ده. «بیگم» او «ارمان» په نامه هغه رادیوگاني دي چي د لومړي ځل لپاره يي دا لړۍ په دري او پښتو ژبو پیل کړې ده، دا يي لینک دی:

https://www.youtube.com/embed/0_ltPuL8XRQ

د نجونو د ښوونځیو پر نه خلاصون باندې د نویو واکدارانو ټینګار، خبره دې برید ته رسولې ده چې د افغانستان ښوونیز نظام د سقوط خطر ته نږدې شوی دی. په دې باب د تاند په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند:(سې شنبه ،د میزان ۱۲مه) د ماشومانو د ژغورنې نړیوال سازمان په یوه تازه ارزونه کې د افغانستان د ښوونیز نظام د تر ټولو بد وضعیت خبرداری ورکړی او ویلي،چې په نړیواله کچه تر ټولو سقوط ته ډېر نیږدې ښوونیز نظام دی.
د یاد شوي سازمان د تېر میلادي کال په ارزونه کې د افغان ښوونیز نظام دغه خطرناک مقام څلورم و، خو سږکال لومړي مقام ته رسېدلی.
سوډان، سومالیا او مالي له افغانستان څخه وروسته د نړۍ درې نور هېوادونه دي،چې ښوونیز نظامونه یې په نړیواله کچه تر ټولو بد او سقوط ته نیږدې وضعیت کې دي.
په دغو څلور واړو هېوادونو کې ټولټال ۴۹میلیونه ماشومان د کرونا ویروس، جګړې او اقلیمي بدلون د اغېزو له کبله په خطرناک وضعیت کې دي او د زده کړو لازم شرایط نه لري.
د ماشومانو د ژغورنې نړیوال صندوق سږکال په دویم ځل د نړۍ د ۱۸۲ هېوادونو د ښوونیزو نظامونو ارزونه کړې ده.
په سږنۍ ارزونه کولمبیا هغه هېواد دی،چې ښوونیز نظام یې تر بل هر هېواد ډېره مثبته وده کړې او ورپېښ ګواښونه یې منځنۍ کچې ته ښکته شوي.
په افغانستان کې د طالبانو له بیا واکمنیدو وروسته، څه باندې یو کال کیږي چې نجونو ته له شپږم څخه په پورته ټولګیو کې د زده کړو اجازه نه ورکول کیږي.
د طالبانو دغه چلند د ځینو منځلارو طالب مشرانو ترڅنګ د دیني عالمانو، ملي او نړیوالو ادرسونو له سختو اعتراضونو سره مخ شوی.
تېره اونۍ د افغانستان په مختلفو ښارونو کې د نجونو د زده کړو پر وړاندې د شته خنډونو د ختملو لپاره زرګونه نجونو مظاهرې وکړې.
د طالبانو چارواکو د خپلې یادې پرېکړې په اړه بېلابېلې څرګندونې کړې، چې خلکو د قناعت وړ نه دي ګڼلې او د نجونو د تړل شویو ښوونځیو د ژر پرانیستل کیدو غوښتنه یې کړې ده.»

په هره پلمه او هرمناسبت چې وي، خلک او نړیواله ټولنه له مسؤلینو څخه د نجونو د ښوونځیو د بیا پرانستلو هیله کوي. د ۲۰۲۲ ام کال د اکتوبر پر یولسمه د نجونو د نړیوالې ورځې په مناسبت ملګرو ملتونو یو ځل بیا ل طالبانو څخه غوښتنه وکړه چې د نجونو تړلي ښوونځی پرانیزي. په همدې مناسبت د بي بي سي پښتو په یو رپوټ کې داسې راغلي دي:

«د ملګرو ملتونو عمومي مشر انتونیو ګوتېرېش یو ځل بیا له طالبانو غوښتنه کړې چې "نجونو ته د زدکړو اجازه ورکړي".
ښاغلي ګوتېرېش په یوه ټویټ کې ویلي "په افغانستان کې له ښوونځیو د نجونو پر ایستلو ډېر اندېښمن یم. دا کار نجونو او دغه هېواد ته خورا ډېر زیان رسوي. زه بیا له طالبانو غواړم چې نجوني ښوونځیو ته پرېږدي".
ملګري ملتونه وايي، افغانستان د نړۍ یوازینی هېواد دی چې له شپږم ټولګيپورته نجونې یې ښوونځیو ته له تللو منع شوې دي.
اوس څه باندې ۳۸۵ ورځې کیږي چې افغانستان کې له شپږم پورته نجونې ښوونځیو ته نه پرېښودل کیږي.
بي بي سي پښتو ته ډېرو کورنیو ویلو چې نجونو ته یې یو ډول رواني ستونزې پیدا شوې دي...»

د بي بي سي په یوه وروستي رپوټ کې، د نجونو د ښوونځیو نه پرانستل کېدو په باب د خلکو خواشیني او ناهیلي داسي ښودل شوی ده:

«... خلک وروسته له هغه لا ډېر ناهیلي شوي چې طالبانو له شپږم د پورته ټولګیونجونو ته ښوونځیو ته د بېرته ستنېدو اجازه ورنکړه.

تېر اګست کې د پوښتل شویو وګړو یوازې ۱۱ سلنې ویلي، ماشومان یې دغه هېواد کې د زده کړې او ودې فرصت لري. د خپل هېواد ښوونیز نظام د کیفیت په اړه د افغانانو ناهیلي د ګالوپ د رپوټ بل مهم ټکی دی.

د رپوټ په وینا اوس په ریکاډ کچه افغانان افغانستان کې د معارف له کیفیته ناراضي دي او داسې انګېرې چې ښوونیز نظام له ګډوډۍ سره مخ دی. یوازې شل سلنه خلکو داسې باور ښودلي چې ګواکې د هېواد له ښوونیز نظامه خوښ دي...»

په افغانستان کې د ښځو د کار کولو او نجونو د زدکړو مسأله په یوه تیاره او ګنګ حالت کې په معلق ډول ساتل شوې ده او په دې حالت سره د افغانستان په میلیونونه ښځې او نجونې په یوه بد رواني حالت کې ساتل کېږي، که دا حالت په مثبت ډول حل نه شي، په ځانګړي ډول د دې ښځو ـ نجونو لپاره او په عام ډول د ټول افغانستان د اوس او راتلونکې لپاره به ډېرې بدې پایلې ولري.

www.dawatmedia24.com